# د گوَري ژبې ولسي ادبيات



خېړنيار شريف الله سانين

د گوَري ژبې ولسي ادبيات

ليکوال: خېړنيار شريف الله سانين

۱۳۹۹ هـ.ش

# The Folklore Literature of Gawari Language

Research Assistant Sharifullah Sanin

2020

ISBN 978-9936-645-56-1

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د ژبو او ادبیاتو مرکز
د ورو‌ڼو قومونو د ژبو او ادبیاتو انستیتوت

# د گـوَري ژبې ولسي ادبیات

## (د شکل او مضمون څېړنه)

لیکوال: څېړنیار شریف الله سانبن

۱۳۹۹ هـ . ش

**کتاب پېژندنه:**

**د کتاب نوم:** د گوَري ژبې ولسي ادبيات

**ليکوال:** څېړنيار شريف الله سانين

**لارښود استاد:** څېړنپوه دکتور سيدمحی الدين هاشمي

**ايډيټور:** څېړنوال دکتور عبدالاحد منگل

**اهتمام:** ع. منگل

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**د ليکلو کال:** ۱۳۹۵ هـ. ش

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹ هـ. ش (۲۰۲۰م)

**تيراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل- افغانستان

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٥-٥٦-۱

د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیکلړ


**عنوان** **مخ**

د لارښود استاد نظر ........................................ أ

د ایډیټور نظر.............................................. ج

سریزه ...................................................... ۱

## لومړی څپرکی

د موضوع شالید

## دوهم څپرکی

د ګوَر قوم او ژبې لنډه پېژندنه

۱- د ګوَر قوم پېژندنه ........................................ ۱۷

۲- د ګوَر قوم مېشت ځایونه .................................. ۲۹

۳- د ګوَري ژبې پېژندنه....................................... ۴۱

## درېیم څپرکی

د ګوَري ژبې د ولسي ادبیاتو لنډه پېژندنه

۱- د ولسي ادب پېژندنه...................................... ۶۷

فولکلور ..................................................... ۶۸

د فولکلور لغوي پېژندنه ...................................... ۶۸

د فولکلور اصطلاحي پېژندنه .................................. ۶۹

د فولکلوري موضوعاتو تصنیف (وېش او ډلبندي)................ ۷۰

د فولکلور ځانګړنې........................................... ۷۱

ولسي یا فولکلوري ادبیات..................................... ۷۱

۲- د ګوَري ژبې د ولسي ادبیاتو وېش .......................... ۷۳

لومړی- منظوم ولسي ادبیات .................................. ۷۳

د منظومو ولسي ادبياتو وېش ........................................................ ۷۳
الف- د موضوع او مضمون له مخې ........................................... ۷۳
ب- د شکل او بڼې له مخې.......................................................... ۷۴
۱ - سندرې ................................................................................ ۷۵
الف- د لويانو سندرې................................................................. ۷۶
لومړۍ سندره ............................................................................ ۷۷
دوهمه سندره ............................................................................ ۷۹
درېيمه سندره ........................................................................... ۸۲
څلورمه سندره .......................................................................... ۸٤
پنځمه سندره ........................................................................... ۸۶
شپږمه سندره........................................................................... ۸۷
اوومه سندره............................................................................ ۸۸
اتمه سندره ............................................................................. ۹۱
ب- د کوچنيانو سندرې............................................................. ۹٤
لومړۍ سندره ........................................................................... ۹۶
دوهمه سندره ........................................................................... ۹۷
درېيمه سندره .......................................................................... ۹۸
څلورمه سندره ......................................................................... ۹۸
پنځمه سندره .......................................................................... ۹۹
شپږمه سندره........................................................................ ۱۰۰
۲- منظوم متلونه ................................................................... ۱۰۰
۳- منظومې کيسۍ (چيستانونه) ............................................۱۰٤
د منظوم ادب د شکل او منځپانگې (مضمون) لنډه تحليلي کتنه ........ ۱۰۷
دوهم- منثور ولسي ادبيات...................................................... ۱۱۳

۱- منثورې ولسي کيسې........................................ ۱۱۴
الف- د لويانو کيسې ........................................ ۱۱۵
لومړۍ کيسه "يک درزگره نه هيچانړ"........................................ ۱۱۷
دوهمه کيسه "دۆ بلياواني ني هيچانړ" ........................................ ۱۲۱
درېيمه کيسه "کفن کايټانه هيچانړ"........................................ ۱۲۸
څلورمه کيسه "دۆ شريکاننه يک هيچانړ" ........................................ ۱۳۵
ب- د کوچنيانو کيسې ........................................ ۱۳۸
لومړۍ کيسه "زانگل او پيسانسي ني هيچانړ" ........................................ ۱۳۹
دوهمه کيسه "جنشواله نه هيچانړ" ........................................ ۱۴۱
درېيمه کيسه "شۆرۉنډي نيکي ني هيچانړ" ........................................ ۱۴۶
څلورمه کيسه "هوډيا بيسن کوټانه هيچانړ" ........................................ ۱۵۰
۲- وړې کېسې او حکايتونه ........................................ ۱۵۱
لومړۍ وړه کيسه يا حکايت ........................................ ۱۵۲
دوهمه وړه کيسه يا حکايت ........................................ ۱۵۳
درېيمه وړه کيسه يا حکايت ........................................ ۱۵۳
څلورمه وړه کيسه يا حکايت ........................................ ۱۵۳
پنځمه وړه کيسه يا حکايت........................................ ۱۵۴
۳- منثور متلونه ........................................ ۱۵۵
۴- منثورې کيسی (چيستانونه) ........................................ ۱۵۹
۵- روايات ........................................ ۱۶۲
لومړی روايت "ناړي مار" ........................................ ۱۶۲
دوهم روايت "سۆن کېڅي" ........................................ ۱۷۸
درېيم روايت "گۆپډېش" ........................................ ۱۸۱
۶- ټوکې ټکالې ........................................ ۱۸۴

۷- فالونه ........................................................................ ۱۸۵
۸- کرکې او کړنې (انګېرنې) .............................................................. ۱۸۶
۹- تکیه کلامونه ................................................................ ۱۹۳
۱۰- سترې مشي او مخه ښه ................................................................ ۱۹۴
۱۱- اصطلاحات او محاورې ................................................................ ۱۹۵
۱۲- رمزونه او کنایې ................................................................ ۱۹۷
۱۳- دعاوې او ښیراوې ................................................................ ۱۹۸
۱۴- لوړې (قسمونه) ................................................................ ۱۹۹
د منثور ادب د شکل او منځپانګې (مضمون) لنډه تحلیلي کتنه ........... ۲۰۱
پایله ................................................................ ۲۱۰
وړاندیزونه ................................................................ ۲۱۶
مأخذونه ................................................................ ۲۱۸
د راویانو لنډه پېژندنه ................................................................ ۲۲۱

# د لارښود استاد نظر

افغانستان د ټولو قومونو ګډ کور او " افغان" د دې ټولو مېشتو قومونو د شریک نوم په توګه منل شوی دی.

داچې د هر ملت د جوړښت بنسټیز توکي په ملت کې مېشت قومونه او ولسونه دي چې هر یو یې معمولاً پخپل منځ کې یوه ژبه، توکم او ځینې نور یووالي او له نورو سره له دغو اړخونو جلا والي لري، خو د قومونو، ژبو، توکمونو او مذهب دغه بېلوالی د دوی د بېلتون لپاره نه، بلکې د یو بڼ رنګا رنګو ګلونو په شان د رنګونو د انځور، تناسب، ښکلا او ځلا لپاره وي او ټول په ګډه د ملت په ترکیب او ترتیب کې د یوې ښکلې او رنګینې ګل ګېډۍ بڼه غوره کوي.

افغانستان هم یو له هغو لرغونو او تاریخي ملتونو څخه دی چې له زمانو راهیسې د پېړیو په پوړیو کې بېلا بېل قومونه د آسیا د لویې وچې په دې جغرافیوي خطه او قلمرو کې مېشت او د همدغو بېلا بېلو ژبو ویونکو وړوکو قومونو په ګډه افغان ملت جوړ کړی دی.

زموږ د هیواد له دغو قومونو څخه یو هم " ګوَر" دی چې د افغانستان په ختیځه برخه کونړ ولایت په ناړۍ او د هغه په ګاونډ د پښتونخوا د چترال په سیمه کې استوګن دي. دوی د ګوَري په نامه ځانګړې ژبه او د لیکلو او ویلو (شفاهي او تحریري) ادبیاتو بډایه پانګه لري. د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز، د وړونو قومونو د انستیتوت غړي ښاغلي شریف الله سانین ته د خپلې نامزد څېړنیارۍ دورې د رفع کولو لپاره د ګوَري ژبې د ولسي ادبیاتو شکل او منځپانګې تحلیلي څېړنې موضوع وسپارله چې د یو کلنې علمي- څېړنیزې پروژې په توګه یې زما تر لارښوونې لاندې ترسره کړي.

نوموړي موضوع له ټاکليو مفرداتو سره سمه په دې لاندې دريو څپرکو کې دA٤ سايز کاغذ په (۱۵۲) د کمپيوټر ليکل شويو مخونو کې د باورې اخځليکونو څخه په دې ترتيب بشپړه کړې ده:

د اثر پيلامه د څېړونکي په سريزه شوې چې په هغې کې يې له مقدماتي خبرو وروسته خپله څېړنيزه پروژه په لنډيز سره راپېژندلې، د بېلا بېلو څپرکو منځپانګه يې معرفي کړې ده په څېړندود، د موضوع په اهميت او مبرميت او اړتيا هم لازمه رڼا اچول شوې ده.

په لومړي څپرکي کې چې د څېړنې شاليد ته ځانګړې شوې، ليکوال لومړی د موضوع پر شاليد رڼا اچولې، د مخه ترسره شوې چارې يې له نظره تيرې کړې، پر هغوی يې کره کتنه کړې او دايې جوته کړې چې پر اړونده موضوع يوې اکاډميکې ليکنې او څېړنې ته اړتيا وه، نو ځکه د وروڼو قومونو انستيتوت هغه ده ته وسپارله.

په دوهم څپرکي کې يې لومړی په مناسب تفصيل سره د ګوَر قوم راپېژندلی، د هغوی مېشت ځايونه يې هم ښودلي او بيا يې د ګوَري ژبې لنډه، خو جامع او هر اړخيزه پېژندګلوي د باوري سرچينو په رڼا کې کړې ده.

دريم يا وروستی څپرکی د ګوَري ژبې د ولسي ادبياتو شکل او مضمون تحليلي څېړنې ته ځانګړی شوی چې ليکوال په کې د دغه ژبې د ولسي ادبياتو ټول شته منظوم او منثور ډولونه د هغو له بېلګو سره راپېژني او ترڅنګ يې د ګوَري ژبې هر منظوم او منثور ادبي ژانر د بېلګې پښتو ژباړه هم وړاندې کوي، په پای کې د دغو ټولو منظومو او منثورو بېلګو بنې او منځپانګې ته تحليلي کتنه کوي او دغسې لوستونکی د دغې ژبې له ولسي ادبياتو سره په هر اړخيزه توګه آشنا کوي.

د پايلې، وړانديزونو، اخځليکونو او راويانو په لنډې پېژندنې سره دغه علمي- څېړنيزه پروژه پای ته رسېږي.

سره له دې چې د ښاغلي شریف الله سانې په وړاندې د داسې یوې موضوع څېړنه پرته وه چې په تیوریکي لحاظ یې د پېژندنې په اړه د مخه څو د ګوتو په شمېر لیکوالو او څېړونکو ډېرې لنډې او ضمني لیکنې کړي وې. معلومه خبره ده د داسې چا لپاره چې د څېړنې په پراخ ډګر کې نوي ګامونه ږدي، په لنډه تنګه موده کې د داسې لویې موضوع څېړل چې د مخه پرې شوی کار په اکاډمیک لحاظ په نشت شمېر دی، یو ډېر ستونزمن کار و، خو ځوان څېړونکي په خپل پیاوړي استعداد او هوډ له دې ستونزمنې چارې بریالی راووت.

ما په دغې یوې کلنې موده کې د لارښود استاد په توګه دا احساس کړه چې نوموړې د مأخذونو او معلوماتي سرچینو ترلاسه کولو لپاره څومره ستونزې او کړاوونه وګالل، ساحې ته یې سفرونه هم وکړل او د ساحوي څېړنو په لړ کې یې ډېر ګټور معلومات ترلاسه کړل. په پلازمېنه (کابل) کې له شتو کتابتونونو او همدارنګه د فرهنګي ملګرو، دوستانو د ځانګړو کتابونو یې اړوندې معلوماتي سرچینې او آثار پیداکړل او د هغو پر بنسټ یې خپله پروژه په ټاکلې موده کې بشپړه کړه.

د پروژې لیکوال د څېړنې چارې د سرته رسولو لپاره زما په مشوره او لارښوونو عمل کړی چې زه یې د لارښود استاد په توګه په دې لاره کې د زغم، حوصلې او زیار ګالنې ستاینه او تائید کوم.

زه د دغه علمي- څېړنیزې پروژې د بنې او منځپانګې ځینې ځانګړنې داسې په ګوته کوم:

- د څېړنې موضوع یې په لویو، منځنیو او څنګزنو سرلیکونو باندې په داسې مناسبه توګه ویشلې چې د موضوع په پېژندنه کې یې د هغې علمي څېړنیز حق ترسره کړی دی.

- په څېړنه کې یې تشریحي او توضیحي لار او په ځینو برخو کې کره کتنیز مېتود کارولی دی.

- په موضوع پورې اړوندو مسايلو د وړاندې کولو په چار کې بريالى دى، استدلالونه او څرګندونې يې مدللې علمي او منطقي تسلسل په کې ښه مراعات شوى دى.

- له نويو او باوري اخځليکونو او د ساحوي څېړنو په تنيجه کې ترلاسه کړيو معلوماتو څخه يې د څېړنې له معاصرو اوصولو سره سمه استفاده کړې ده. هغه يې د هر څپرکي په پاى او بيا په مجموعي ډول د کتاب په آخر کې د څېړنې له اکاډميکو معيارونو سره سم راخيستي دي.

- د ليکنې لار او سبک يې ساده، روان، له معنوي او لفظي کړکيچ نه ژغورلى دى.

د دې پورته يادونو په پايله کې زه د لاربنود استاد په توګه د ښاغلي شريف الله سانېن ترسره کړي علمي- څېړنيزه پروژه په علمي او مسلکي لحاظ پوره او مثبته ګڼم. له نامزد څېړنيارۍ څخه يې د څېړنيارۍ علمي رتبې ته د لوړيدو وړ بولم. نوموړي ته د نورو غوره علمي، فرهنګي خدمتونو او لوړو علمي پړاوونو په برياليۍ توګه د ترسره کولو هيله کوم، د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز ته، د دې لپاره چې له دې اثر څخه استفاده عامه شي، دچاپ او خپراوي سپارښتنه کوم.

په درنښت

څېړنپوه سيد محى الدين هاشمي

د ژبو او ادبياتو مرکز

د پښتو فولکلور او شفاهي ادبياتو څانګه

۱۳۹۵ لمريز کال، د چنګاښ شلمه

# د ایډیټور نظر

د ګوري ژبې د ولسي ادبیاتو شکل او مضمون اثر په دریو څپرکو کې لیکل شوی دی، په لومړي څپرکي کې د هغو بهرنیو او کورنیو پوهانو یادونه شوې چې ګوري ژبه او ټبر یې لومړی ځل معرفي کړي، وروسته یو په یو ټول هغه آثار او منابع را پېژني چې د یاد قوم او ژبې په اړه یادونه کوي، یا پر همدې ژبه لیکل شوي او یا هم ګوري ژبې ته ژباړل شوي دي او د یادو آثارو پر محتوا یې هم لنډه کره کتنیزه تبصره کړې ده، دویم څپرکی د ګور قوم او ګوري ژبې پېژندنې ته ځانګړی شوی، د دې څپرکي بحث د ګور قوم پر پېژندنه، مېشت ځایونو او د ګوري ژبې د پېژندنې پر محور څرخي، د اثر درېیم څپرکی چې د اصلي موضوع فرضیه ده، د ګوري ژبې د ولسي ادبیاتو د شکل او مضمون پېژندنه په خپله لمن کې را نغاړي، د اثر لیکوال په دې څپرکي کې ولسي ادبیات د لنډې پېژندنې تر عمومي سرلیک لاندې، فولکلور، د فولکلور لغوي او صطلاحي معناوې، د فولکلوري موضوعاتو تصنیف بندي، ځانګړنې او ولسي ادبیات را پېژني چې دا په حقیقت کې په عام ډول د فولکلور او په ځانګړې ډول د ولسي ادبیاتو تیوري ده، وروسته په همدې څپرکي کې د ګوري ژبې منظوم او منثور ولسي اصناف تشریح کوي او د هر شکلي او محتوايي ژانر بېلګې په ګوري ژبه له پښتو ژباړې سره را وړي، چې د ګوري ژبې د ولسي ادبیاتو د هرې برخې څو-څو بېلګې یې خوندي کړي دي. په پای کې د ولسي ادبیاتو د منظومو او منثورو ژانرونو جاج اخیستل شوی، ور پسې نتیجه، وړاندیزونه او مأخذونه راغلي دي.

لیکوال دغه علمي اثر د کتابتوني او ساحوي څېړنې په لړ کې د تاریخي او تشریحي مېتودونو په رڼا کې بشپړ کړی دی او کله کله یې له انتقادي مېتود څخه هم ګټه اخیستې ده، د څېړنیار سانین یاد اثر د پښتو ژبې او

ادبياتو انستيتوت د ۵/ ۸/ ۱۳۹۹ نېټې د ( ۵۷\۱۵۰ )گڼه ليک په ملتيا د نظر، ايډيټ او اهتمام په موخه را سپارل شوی دی چې ما له خپل توان سره سم، د پښتو متن ژبنی ايډيټ تر سره کړ او د منځپانگې له مخې مې د پښتو ژباړو لازمې سمونې کړي، معترضه جملې او زايد عبارتونه مې ترې حذف کړي دي.

ښاغلي څېړونکي ته دا سپارښتنه هم کوم چې کـه کېدای شي د کتاب نوم د لارښود استاد پـه مشوره ( د گـوري ژبـې د ولـسي ادبيـاتو شـکل او مضمون) څخه (د گوري ژبې ولسي ادبيات) باندې بدلون او سمون وومي، نو دا به غوره وي.

په پای کې په لنډه توگه ويلی شم چې؛ دغه اثر د څېړنيار شريف الله سانين له خوا د رفع نوماندی د ترفيع لپاره د ټاکلو مفرداتو په رڼا کې ليکل شوی؛ ليکلړ يې په خپل وخت کې قانوني مراحل طی کړي او د لارښود استاد تر نظر لاندې ليکل شوی، د اثر له شاليد نه معلومېږي چې گوَر قوم او گوَري ژبې په ډگر کې دا لومړی اکاډميکه هڅه ده، پر همدې اساس به د ياد اثر چاپول د نوموړي قوم او ژبې په اړه له رسمي او علمي ادرسه ښه پيل وي.

په درنښت

څېړنوال دکتور عبدالاحدمنگل

# سریزه

ولسي ادبیات د هرې ټولنې او ولس د کلتور او ټولنیز ژوند ډېره ارزښتمنه پانګه ده او د هرې ټولنې او قوم فولکلور او شفاهي (ولسي) ادب د هغې د ملي فرهنګ روښانه او ځلانده هینداره بلل کېږي.

څرنګه چې د هر قوم او ژبې د ټولنیز ژوند او کلتور بېلا بېل اړخونه او تاریخ د ولسي ادب په بېلا بېلو فورمونو کې انځور او نغښتي دي او د هغه ولس د ژوندانه مادي او معنوي اړخونه، کړه وړه، د ولس هنري استعداد، پوهه او بېلا بېل ټولنیز حالات د تېرو پېړیو څخه تر دې دمه انتقالوي او د پخوانیو تجربې او هر اړخیز ژوند څرګندوي، نو د همدې ځانګړنو په اساس لازمه او اړینه ده چې فولکلوري ادبیات راټول تحلیل او څېړنې پرې وشي.

زموږ ګران هېواد د ګڼو وروڼو قومونو کور دی چې د هېواد فرهنګ او فولکلور یې بډایه او غني کړی دی او په دې برخه کې یې هر اړخیزه رنګا رنګي او ښکلا په څرګند ډول ځلېږي. زموږ په هېواد (د آریایي ژبو زانګو) کې هر قوم ځانګړې ژبه او هره ژبه ځانګړي ولسي ادبیات لري چې له دې جملې څخه یو هم ګوَر قوم دی چې د خپلو نورو وروڼو قومونو ترڅنګ په ګران هېواد افغانستان کې له پخوا زمانو راهیسې مېشت او د یوې خپلواکې آریایي ژبې (ګوَري gawari) څښتن دی.

دا ژبه د نړۍ د ژبو په ډلبندۍ کې ژبپوهانو د یو لړ معیارونو پر بنسټ د اندو اروپایي ژبکورنۍ د آریک ژبښاخ د داردي ژبڅانګې له مرکزي ډلې ژبو څخه ګڼلې ده. دا ژبه د هېواد ختیځ ته د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ په ناړۍ، فقیرآباد، بریکوټ، دوکلام او ځینو نورو کلیو کې، د غازي آباد ولسوالي په مرکز(نیشه ګام)، د پښتونخوا په دیر کوهستان، سوات کوهستان

او د چترال په ارنوی(ارنو) او نورو کليو کې ويل کېږي. دې ژبې ته چې يوه پخوانۍ او تاريخي آريايي ژبه ده، څومره چې لازمه ګڼل کېږي علمي او اکاډميک کار نه دی ترسره شوی او د ليک لوست په برخه کې يې هم لازم او اړين اقدامات نه دي ترسره شوي. که څه هم ځينې آثار او ليکنې پرې شوې دي، خو هغه هم د دې ژبې د حقوقو او اړتياوو په نظر کې نيولو سره کافي نه دي او ان داچې د نشت برابري دي. د همدې لامل په اساس تر ډېره د وينا ژبه پاتې شوې ده چې د بډايه ولسي ادب درلودونکې ده. د دې ژبې د ولسي ادبياتو په برخه کې تر اوسه چا هيڅ ډول کار نه دی کړی او دا د هرې ژبې ډېره مهمه او ارزښتناکه برخه ګڼل کېږي، نو پر همدې بنسټ ما ته هم د هغه ځانګړې لېوالتيا له مخې چې له خپلې ژبې، ادب او فرهنګ سره يې لرم، د افغانستان د علوماکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز د وروڼو قومونو انستيتوت له لوري "د ګوَري ژبې د ولسي ادبياتو شکل او مضمون" ترسرليک لاندې د څېړنيار علمي رتبې ته د ترفيع لپاره د نامزدۍ د رفع کولو يوه کلنه علمي- څېړنيزه پروژه د استاد څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي په لارښوونه تر علمي او قانوني مراحلو وروسته راوسپارل شوه.

دغه علمي- څېړنيزه پروژه درې څپرکي لري: په لومړي څپرکي کې د موضوع د شاليد لنډه يادونه شوې ده. په دې څپرکي کې د ګوَري ژبې اړوند چې څومره کار شوی دی په ټوليزه توګه پرې لنډ بحث شوی دی.

په دوهم څپرکي کې د ګوَر قوم پېژندنه، د ګوَري ژبې پېژندنه او د ګوَر قوم مېشت ځايونه تر سرليکونو لاندې لنډ بحث شوی دی. په دې څپرکي کې دا په ډاګه شوې دي چې ګوَريان لرغوني آريايان او له هغو قومونو څخه يو قوم دی چې د خپلې اصلي کورنۍ (آريک) څخه جلا شوی دی.

په دریيم  څپرکي کې د ګوَري ژبې د ولسي ادبیاتو لنډه پېژندنه ترسرلیک لاندې د ګوَري ژبې د ولسي ادبیاتو د شکل او مضمون په بېلا بېلو فورمونو او د هغو په منځپانګې بحث شوی دی. په دې  څپرکي کې د ولسي ادب له عامې پېژندنې وروسته د ګوَري ژبې د ولسي ادبیاتو پر دوو برخو چې په منظومو او منثورو ولسي ادبیاتو وېشل شوي دي، د هغو په هر ځانګړي فورم هم په خپل ځای بحث شوی دی.

لومړۍ برخه چې منظومو ولسي ادبیاتو ته ځانګړې شوې ده، په دې برخه کې د دریو فورمونو (سندرو، متلونو او کیسیو(چیستانونو)) چې په سندرو کې لومړی د لویانو سندرې او بیا د کوچنیانو سندرې له بېلګو او ژباړې سره او ورپسې د متلونو او کیسیو بېلګې له ژباړې سره راوړل شوي دي. په پای کې يې د منظومو ولسي ادبیاتو شکل او منځپانګې ته لنډه تحلیلي کتنه شوې ده.

دوهمه برخه د منثورو ولسي ادبیاتو ده، په دې برخه کې د یو شمېر فورمونو، لکه: کیسو(د لویانو او کوچنیانو)، وړو کیسو او حکایتونو، منثورو متلونو، کیسیو(چیستانونو)، روایاتو، ټوکو ټکالو، انګېرنو، تکیه کلامونو، ستړي مشي او مخه ښه وو، اصطلاحاتو او محاورو او لوړو(قسمونو) بېلګې له پښتو ژباړې سره راوړل شوې دي. په پای کې يې د ټېر په څېر د منثورو ولسي ادبیاتو په شکل او منځپانګې (مضمون) لنډ تحلیلي بحث شوی دی او د منځپانګې بېلا بېلې موضوعي ځانګړتیاوې يې روښانه شوي دي.

د دې علمي- څېړنیزې پروژې د ترسره کولو اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تر اوسه د ګوَر قوم، ژبې او ادبیاتو په اړه علمي او اکاډمیکه څېړنه نه وه شوې، نو ځکه دا څېړنه د یو کلنې علمي څېړنیزې پروژې په

توګه ترسره شوه او په دريو بېلا بېلو څپرکو کې د ګوَر قوم، ژبې او ولسي ادبياتو د پېژندنې په اړه د ټاکلو مفرداتو په رڼا کې څېړنه ترسره شوه.

د دې علمي- څېړنيزې يو کلنې پروژې په بشپړولو کې له تحليلي او تشريحي مېتود څخه کار اخېستل شوی او پر کتابتوني څېړنې سربېره د موادو راټولونې لپاره سيمه ييزه څېړنه هم ترسره شوې ده. همدارنګه ځينې مواد او سندرې مې د کونړ ولايت د ځلا راډيو ټلوېزيون له آرشيف څخه ترلاسه کړي دي. دا راډيو ټلوېزيون د يو فرهنګپال شخصيت شکيب الله سانېن له لوري جوړ شوی چې په راډيوي خپرونو کې يې له رسمي ژبو سربېره په ګوَري، نورستاني او ګوجري خپرونې لرلې.

د ګوَري ژبې او ولسي ادبياتو د موضوع د څېړلو او بيانولو چې څومره حق و، ښايي هومره مو نه وي اداء کړی. په دې لړ کې زه خپل کار نيمګړی ارزوم، ځکه چې په دې برخه کې دا يو بشپړ اثر نه، بلکې پيل بولم، ځکه په دې برخه کې په لسګونو آثار ليکل کېدای شي، خو د راتلونکو ليکوالو او څېړونکو څخه هيله مند يم چې دغه نيمګړې هڅه بشپړه کړي. خدای تعالی دې وکړي چې دغه نيمګړې هڅه درنو لوستونکو ته ګټوره او په زړه پورې تمامه شي.

په پای کې له خپل لارښود استاد ښاغلي څېړنپوه سيد محی الدين هاشمي څخه د زړه له تله مننه کوم چې د دې پروژې په اړوند يې ماته په هر وخت کې لازمې علمي لارښوونې وکړې. همدارنګه له آغلې څېړنوالې عاطفې نورستانۍ څخه هم مننه کوم چې په وخت يې را سره همکاري کړې او ګټورې مشورې يې راکړي دي. دواړو درنو استادانو ته د لوی خدای (ج) له درګاه څخه سرلوړي، برياليتوب او اوږد ژوند غواړم.

د ګران هېواد د فرهنګ د پراخې رنګارنګې لمنې د بډاينې او په ځانګړې ډول د ګوَري ژبې او ادب د پرمختګ، ودې او ځلا په هيله.

***